# مطبوعاتي خبرپاڼه

**کابل- افغانستان، د ۱۳۹۶ کال د غويي ۱۸مه:** د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه (MEC) درې رپوټونه خپروي:

1. د څارنې او ارزونې کمیټې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د اداري فساد په وړاندې د مبارزې پلان ارزولی.
2. د څارنې او ارزونې کمیټې د مالیې وزارت د اداري فساد په وړاندې د مبارزې پلان ارزولی.
3. په عامې روغتیا وزارت کې د اداري فساد په وړاندې د زیانمننو د ارزونې د رپوټ د سپارښتنو د پلې کیدو په تړاو د څارنې او ارزونې کمیټې دریم درې میاشتنی څارنیز رپوټ

## 1. د سوداګرۍ او صنایعو وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان

په ۲۰۱۶ کال کې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت خپل د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پلان جوړ او د هغې په پلي کولو کې يې خپل هوډ او ژمنتیا اعلان کړه. د سوداګرۍ او صنایعو وزارت پلان د پنځو اولویت بندي شويو برخو لپاره ۲۳ کړنې لري. د څآرنې او ارزونې کمېټې موندنې په دوو پراخو برخو کې بیان کړي، د سوداګرۍ او صنایعو وزارت له فساد سره د مبارزې د پلان عمومي جوړښت (ماهیت) او په پلان کې د دقیقو بیان شويو کړنو د پرمختګ په اړه مالومات.

### عمومي موندنه

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت پلان په جدي توګه نیمګړتیاوې لري، او د فساد ځینې پیژندل شوې برخې يې له پامه غورځولې دي.

### ځانګړې موندنې

- د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د تیر کال په پرتله په چټکۍ جوازونه صادروي، خو دا کار د فساد لپاره نوې لارې هواروي: جوازونه د افغانستان د سوداګرۍ د ثبت مرکزي دفتر له لوري صادر او نوي کیږي. یاده اداره د سوداګرۍ او صنایعو وزارت لپاره د عوایدو یو له مهمو سرچینو څخه ده، خو له مالیې څخه د تیښتې په موخه، د بډو په ورکولو سره، د پیسو یوه ستره برخه ورکیږي.
- په افغانستان کې د بهرنۍ پانګونې د هڅولو لپاره تمه کیده چې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د شفافې پروسیې له لارې نوې سوداګریزې آتشې وګماري، خو له دې موخې سره سره چې دغه بهیر به روڼ وي، داسې ښکاري چې ګمارنې د سیاسي نفوذ او لاسوهنو له امله زیانمن دی.
- د سوداګرۍ او صنایعو وزارت له فساد سره د مبارزې د اقداماتو د یوې برخې په توګه، ددغه وزارت د صنایعو رییس پلان کړی چې غصب شوې ملکیتونه وپیژني. رییس په بریالیتوب سره شاوخوا ۲۲۶۵ جریبه غصب شوي ملکیتونه پیژندلي او له دې شمیرې څخه يې ۶۹۶ جریبه بیرته ترلاسه کړې ده.

### د پلان بشپړتوب – ۳۵٪

تر دې دمه د سوداګرۍ او صنایعو وزارت له فساد سره د مبارزې د پلان له ۲۳ اقداماتو څخه، ۸ يې په بشپړ ډول پلي شوي دي. د ۹ اقداماتو په اړه وزارت د څارنې او ارزونې له کمیټې سره هیڅ ډول همکاري ونه کړه له همدې امله د پرمختګ په اړه هیڅ ډول توضیح نه شته.

## 2. د ماليې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې پلان

د څارنې او ارزونې کمیټې د مالیې وزارت له فساد سره د مبارزې پلان او په نوموړي وزارت کې ددغه پلان د پلي کیدو پرمختګ څیړلی دی. ددغه رپوټ لپاره د څارنې او ارزونې کمیټې د مالیې وزارت له ۳۰ چارواکو سره مخامخ مرکې ترسره کړې او همدارز د یاد وزارت له نور ښکیلو لورو لکه سوداګر، او لویو باروړنکو موټرونو له چلوونکو سره لیدنې ترسره کړې دي. ددغې ساحوي ارزونې په دوام پر هغو اسنادو چې په انفرادي او ډله ایزو مرکو کې د ګډونوالو له لوري د بحثونو او تشریح اړوند ثابتولو لپاره وړاندې شوي ول، په تفصیل سره بیا کتنه ترسره او تحلیل شول.

### موندنې

**په خپله پلان ډیر محدود دی او د وزارت له لویو برخو کړنو (مقیاس) سره متناسب نه دی**

کیدای شي د ګوتو په شمار کړنې یو مزیت اوسي او هغه په دې مانا چې کولایي شي پرې تمرکز وشي او یا له لومړیتوبونو سرچینو سره پلان شوي عوامل ترلاسه او د وزارت له فساد سره د مبارزې پر کړنو اغیزې ولري، خو له بلې خوا په مالیې وزارت کې د فساد ډیرې مسایل شته.

مالیې وزارت یو ستر او د اداري فساد په وړاندې له زیانمننونکو وزارتونو څخه شمیرل کیږي، او یوازې له ۱۵ اقداماتو سره پلان یو پراخ او هر اړخیز پلان نه دی د بیلګې په توګه: د افغانستان د عوایدو په ریاست (ARD) کې، چې د کورنیو عوایدو لپاره تر ټولو ستره سرچینه ده، د فعالیتونو ساحه یوازې دوو موخو او پنځو فعالیتونو ته محدوده شوې ده. په اداري ډول، ددغه وزارت اداري معنیت چې ۳ عمومي ریاستونه او ۱۳ نور ریاستونه لري په پلان کې یوازې یو فعالیت درلود. د ګمرونو په برخه کې آن هغه اووه فعالیتونه چې د مالیې وزارت د کورنې تفتیش ریاست له خوا پیژندل شوي، هم له فساد سره د مبارزې په پلان کې نه دي شامل شوي.

**ډیری کړنې مخکې له دې چې پلان پیل شي په پراخه کچه بشپړې شوې وې**

د مالیې وزارت له فساد سره د مبارزې پلان د ۲۰۱۶-۲۰۱۷ کال لپاره طرحه شوی. د څارنې او ارزونې کمیټې داسې مستند شواهد ترلاسه کړې چې ددې ښودنه کوی چې په بشپړ ډول له ۱۷ پلې شویو شاخصونو څخه څلور یې له ۲۰۱۶ کال څخه وړاندې په پراخه توګه پلې شوي ول. ددې ترڅنګ د مالیې وزارت له چارواکو او پخوانیو کارکوونکو سره له مرکو وروسته څرګنده شوه چې د افغانستان د ګمرکونو او عوایدو برخې اړوند کړنې (دو پر دریمه برخه) په پراخه کچه له ۲۰۱۶ کال وړاندې پلې (بشپړې) شوې وې.

### د مقیاس شویو شاخصونو پر بنسټ پرمختګ ۳۴٪ دی

۱۵ اقدامات یا کړنې په ۵۰ شاخصونو ویشل شوي دي، چې هر یو یې په فعالیتونو کې د یوه ځانګړي پرمختګ څرګندوی کوی. له ۵۰ شاخصونو څخه ۱۷ یې په بشپړ ډول پلې شوي (شین رنګ)، درې شاخصونه نه دي پلې شوي (سور رنګ)، ۱۰ شاخصونه له ۵۰ څخه ۷۵ سلنې پلې شوي (ژیړ رنګ)، ۸ شاخصونه له ۲۵ څخه تر ۵۰ سلنې پلې شوي (نیمه ژیړ رنګ)، او ۱۲ شاخصونو په برخه کې د څارنې او ارزونې کمیټې کوم شواهد ترلاسه نه کړل نو له همدې امله په خپلواکه توګه د هغوی پرمختګ نه شي تاییدولای.

### 3. په عامې روغتیا وزارت کې د اداري فساد د زیانمننو ارزونې د رپوټ د سپارښتنو د پلي کیدو په تړاو دریم درې میاشتنی څارنیز رپوټ

د څارنې او ارزونې کمیټې د ۲۰۱۶ کال د جون په ۴ نیټه په عامې روغتیا وزارت کې د اداري فساد د زیانمننو د ارزونې رپوټ له ۱۱۵ سپارښتنو سره خپور کړ.

دا د څارنې او ارزونې کمیټې دریم درې میاشتنی څارنیز رپوټ دی. شواهد ددې ښودنه کوي چې د رپوټ ورکولول په دې ربع کې هم عامې روغتیا وزارت په بیلا بیلو برخو کې ځینې پرمختګونه درلودل.

په پنځو برخو کې غوره او د پام وړ پرمختګونه شوي دي:

- یو ځل بیا د درملو او طبي محصولاتو د تنظیم په ملي اداره کې د پام وړ پرمختګونه شوي، چې د فارمسي چارو د عمومي ریاست پر ځای جوړه شوي. د درملو او طبي محصولاتو د تنظیم ملي اداري د فساد د کمښت په برخه کې د حقوقي اصلاحاتو،پالیسی او تخنیکي بدلونونو،د درملو او طبي محصولاتو پر تولید او واردولو کې د مداخلې، په جدي توګه د څارنې او تفتیش او سیستماتیک ډول له کورنیو شکایاتونو او د خدمتونو وړاندې کولو برخې شکایتونو څیړلو په ګډون څو اړخیز عملکرد په توګه خپل کار ته دوام ورکړی دی
- د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي شوراګانو د پیاوړتیا او بنسټیز کولو په موخه د روغتیایي شوراګانو د دندو لایحه تعدیل کړې ده چې دا کار ددې لامل ګرځې چې د کلیو، ولسوالیو او ولایاتو په کچه د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو د لړۍ څخه تولنیزه څارنه ښه والی ومومي او حساب ورکونه به پیاوړې شي. عامې روغتیا وزارت هڅه کړي چې ۱۱۲ ولسوالیو ته د روغتیایي شوراګانو د کړنو د پراختیا لپاره د نړیوال بانک ملاتړ ترلاسه کړي.
- دریم د پام وړ پرمختګ د روغتیا برخې لپاره د رسمي اعتبار ورکولو سیستم ارتقا دی چې د رپوټ د ۳ سپارښتنې په ملاتړ راغلی " د روغتیا سکتور د اعتبار، تمامیت او ریښتینولی د بیرته احیا کولو لپاره د روغتیایي موسساتو د تصدیق یو خپلواک کمیسیون رامنځته کول"
- څلورم د پام وړ پرمختګ شکایتونو ته د رسیدنې پروسې په اړه او ځانګړې توګه د ۱۳ او ۱۹ سپارښتنو کې ملاحظه شوي چې دعامې روغتیا وزارت پر ریښتنولی، ځواب ویلو او مسوولیت منلو د لا زیات عمومي باور د هڅولو لپاره د پراخو همکاریو سره یوځای دی.
- پنځمه د پام وړ لاس ته راوړنه، په ملي ژبو د عامې روغتیا وزارت د ټولو پالیسو ژباړل او د عامې روغتیا په ټول وزارت، د اساسي روغتیایي خدمتونو مجموعې او د روغتونونو د خدمتونو مجموعې کې ویشل دي لکه څنګه چې د څارنې او ارزونې کمیټې د ۵.۲ سپارښتنې کې ویل شوي، لیدل کیږي.

*د زیاتو مالوماتو لپاره له مونږ سره اړیکه ونیسئ:*

**تیلفون:** +93 (0) 797 515 871
**ایمیل:** contact@mec.af
**ویب پاڼه:** www.mec.af
**فیسبوک:** www.facebook.com/mec.afghanistan
**تویټر:** https://twitter.com/MEC_Afghanistan